**مطبوعاتي اعلاميه**

# حزب التحریر ـ ولایه سوډان د خلافت د راپرځېدو د ۹۹یم تلین په اړه د حزب التحریر د امیر، نامتو عالم، عطاء بن خلیل ابو رشته د وینا کاپیانې پر خلکو وېشي

د ۱۴۴۱ هـ.ق کال د رجب په ۲۸مه، چې د ۲۰۲۰ز کال، د مارچ له ۲۳مې سره سمون خوري، حزب التحریر ـ ولایه سوډان د حزب التحریر د امیر، نامتو عالم، عطاء بن خلیل ابو رشته د وینا کاپیانې پر خلکو ووېشلې. حزب د سوډان په پلازمېنه، ښارونو او بېلابېلو سیمو کې په پراخه کچه ووېشلې، امت ته یې د هغه زړه بوږنوونکې پېښې یادونه وکړه چې ۹۹ کلونه وړاندې په همدې نېټه پېښه شوه، دقیق د ۱۳۴۲ هـ.ق کال د رجب په ۲۸مه.

د حزب امیر ټول اسلامي امت، په ځانګړي ډول د حزب التحریر غړو او پر خپله نړیواله وېب پاڼه کې یې مېلمنو ته په وینا کې د امت یادونه وکړه چې د دې عصر جنایتکار مصطفی کمال اتاترک خلافت ړنګ کړ، نو په همدې سره هغه حکم چې د الله سبحانه وتعالی له لوري نازل شوی و، پټ شو. په ښکاره توګه دا عمل کفر ګڼل کېږي او له مرتکبینو سره یې باید په توره جګړه وشي او له امت څخه پوره قرباني غواړي، مګر امت د دغه جنایتکار پر وړاندې خپل مسوولیت ترسره نه کړ! نو له همدې امله د امت تاریخ توره تیاره شو، هغه امت چې د خلافت د درلودو پر مهال یې د حقیقت او عدالت لپاره وېره درلوده، نن له پنځوسو ټوټو څخه پر ډېرو ټوټو وېشل شوی دی چې هغه کسان پرې مسلط دي چې په زړه کې رحم نه لري او خپلو چارو ته یې هېڅ پام نه دی، رووېبیډېټ چې د کفارو پیروي کوي او د ښکېلاکګرو تابع دی اوس په دې وخت کې حکومت کوي.

نو امیر حفظه الله، څرګنده کړه چې خلافت د امت حیاتي مسئله او دا یو لوی مکلفیت دی چې د فرضیت لپاره یې قاطع شواهد وړاندې کوي، چې څنګه اصحابو کرامو رضی الله تعالی عنهم اتفاق درلود چې د مسلمانانو لپاره جواز نه لري تر څو له دریو ورځو او شپو څخه پرته له خلافت څخه ژوند

وکړي، خو بیا هم له موږ څخه درې واړه تېر شوي دي، و لا حوله و لا قوة الا باالله. په هر صورت، امیر حفظه الله  خلکو ته یادونه وکړه چې موږ د الله سبحانه وتعالی له رحمت څخه نه ناهیلي کېږو ځکه چې هغه سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿إِنَّهُ لاَ يَيْأَسُ مِن رَّوْحِ اللّهِ إِلاَّ الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ﴾

**ژباړه**: «د الله سبحانه وتعالی له رحمت څخه مه ناهیلي کېږئ، د هغه له رحمت څخه کافران ناهیلي کېږي.» [یوسف:۸۷]

او الله سبحانه وتعالی پر ځمکه د مومنانو د بریا ژمنه کړې، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ظالم حکومت وروسته د نبوت د منهج پر بنسټ د خلافت د راګرځېدو زیرې ورکړی دی. د هغه په وینا کې، امیر د الله سبحانه وتعالی شکر ادا کړ چې امت ته یې د عزت لپاره د حزب التحریر تاسیس ورپه برخه کړ، چې خپل ژوند یې د نبوت د منهج پر بنسټ د دویم راشده خلافت د تاسیس او اسلامي ژوند ته د راګرځېدو لپاره جدي او مخلصانه کار ته وقف کړ.

د حزب نامتو عالم، شیخ عطاء بن خلیل ابو الرشته د خپلو خبرو په پای کې وویل، چې د خلافت تاسیس یوازې د حزب التحریر نه، بلکې د هر مسلمان مکلفیت دی. له مسلمانانو او د مسلمانو پوځونو څخه یې د نصرت او ملاتړ غوښتنه وکړه چې د انصارو ژوند ته راوګرځي، دوی چې کله له دین سره مرسته وکړه، نو الله سبحانه وتعالی هغه له مهاجرینو سره برابر وګڼل، له هغوی څخه یې ستاینه وکړه او په خپل کتاب کې له دوی څخه راضي و.

او د خپلو خبرو په پای کې امیر حفظه الله وویل، د هغه چا لپاره چې له خلافت وړاندې د هغه نصرت او ملاتړ کوي اجر یې له هغه چا څخه ډېر دی چې وروسته له خلافت څخه یې نصرت او ملاتړ کوي.

﴿لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِنَ الَّذِينَ أَنْفَقُوا مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلّاً وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾

*ژباړه: «ستاسو څخه چې کوم کسان له فتحې (برې) څخه وروسته مالي لګښت او جهاد وکړي، هغوی هېڅکله له هغو خلکو سره نه شي برابرېدای چې له فتحې (برې) څخه یې مخکې مالي لګښت او جهاد کړی؛ د هغو درجه په وروسته وخت کې له مالي لګښت کوونکو او جهاد کوونکو څخه ډېره ستره ده، که څه هم الله سبحانه و تعالی له دې دواړو سره غوره ژمنه کړې ده. څه چې تاسو ترسره کوی، الله سبحانه و تعالی پرې خبر دی.» [حدید: ۱۰]*

او موږ الله سبحانه وتعالی ته د دعا لاسونه لپه کوو، چې دغه ۹۹یمه کلیزه د سترې بریا پیلامه وګرځوي او له ۱۰۰مې کلیزې وړاندې یو ځل بیا په نړۍ کې د خلافت وړانګې خورې کړي.

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾**

*ژباړه: «او په دغه ورځ (د روم په برلاسه کېدو) به مسلمانان خوشالي وکړي* د الله سبحانه و تعالی په ورکړل شوې بریا باندې. الله سبحانه و تعالی د هر هغه چا مرسته کوي چې خوښه یې شي او هغه برلاسی او پوره رحم لرونکی دی.» [روم: ۴-۵]*

**ابراهیم عثمان (ابوخلیل)**

**د حزب التحریر- ولایه سوډان رسمي ویاند**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د محرم ۲۹مه**

**۲۰۲۰م کال، د مارچ ۲۴مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۴۱**